**مطبوعاتي اعلامیه**

**د دیموکراسۍ د څېرې بدلون هېڅکله بسنه نه کوي، د له منځه وړلو لپاره یې هڅه وکړئ؛ ځکه د فساد او ظلم ملاتړې ده!**



د ۲۰۱۷م کال د جولای پر ۲۸مه د جمعې ورځې له ماسپښین وروسته، د پاکستان سترې محکمې د دغه هېواد صدر اعظم نواز شریف له دندې گوښه کړ. محکمې د هغه، د هغه د کورنۍ او حکومتي ملگرو پر وړاندې د فساد ضد دوسیې وڅېړلې. په داسې مهال کې چې د نړۍ ټول مسلمانان په فساد او ظلم کې ډوب دي، د حیرانتیا ځای نه دی چې مسلمانانو د عدالت د یوې بېلگې په توگه پر دې پرېکړه خوښي څرگنده کړه؛ خو پرېږدئ چې یادونه وکړو تر هغه چې ډیموکراسي (د فساد ملاتړې) له منځه لاړه نه شي، موږ به هېڅ وخت پوره او هر اړخیز عدالت ونه وینو. پرېږدئ هغه گواښ یاد کړو چې موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړی:

«**لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ**» (بخاری او مسلم)

*ژباړه: مومن له یوې سوړې دوه ځله نه چیچل کېږي.*

رښتیا موږ تل هغه وخت چیچل شوي یو چې یوازې د دیموکراسۍ په څېره کې بدلون راغلی؛ خو دیموکراسي پر خپل ځای پاتې ده. هغه وخت چې نواز شریف په ۱۹۹۰م کال کې گوښه کړل شو، خوښ شوو او د مشرف تود هرکلی مو وکړ. بیا د مشرف په لرې کولو خوښ شوو او د زرداري تود هر کلی مو وکړ. وروسته بیا د زرداري د دورې په پای ته رسېدو خوښ شوو او د نواز شریف تود هرکلی مو وکړ. اوس د نواز شریف په گوښه کېدو خوښ یو، خو ډېره ژر به نوې څېره هم وغندو؛ ځکه چې دیموکراسي پر خپل ځای پاتې ده. ایا دیموکراسي به څو ځله موږ هیله من پرېږدي، هغه هم په هغو کسانو چې بیا به هم گوښه کړل شي؟

پرېږدئ ووایو، چېرې چې دیموکراسي شته، فساد هم شته. د پانامې اسنادو د دیموکراسۍ فساد په ټوله نړۍ کې خپور کړی دی، نه یوازې په پاکستان کې؛ بلکې له روسیې تر سویلي امریکا. پر دې سربېره دیموکراسي د فساد د ټولو ډولونو ملاتړې ده، هغه که مالي وي که غیر مالي. دیموکراسي د داسې حکومت ملاتړې ده چې په هغه الله سبحانه وتعالی په غوسه کېږي؛ ځکه الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ﴾ [مائده: ۴۵]

*ژباړه: څوک چې پر هغه څه چې الله نازل کړي، حکم نه کوي، هغوی ظالمان دي.*

دیموکراسي د ځمکې په شتمنۍ کې د خلکو حق د رد ملاتړې ده، ځکه الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿كَىْ لاَ يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ ٱلأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ﴾ [حشر: ۷]

*ژباړه: دا د دې لپاره ده چې مالونه یوازې ستاسې د بډایو تر منځ لاس په لاس نه شي.*

دیموکراسي د اسلام او مسلمانانو له دښمنانو سره د ائتلاف ملاتړې ده؛ ځکه الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿يا أَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَارَىٰ أَوْلِيَآءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ﴾ [مائده: ۵۱]

*ژباړه: اې مومنانو! یهودان او عسویان خپل ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو کې ملګري دي او که ستاسې څخه څوک هغوی په ملګرۍ ونیسي، د همدوی له ډلې څخه دی.*

دیموکراسي د مسجدالاقصی او د کشمیر د استعمار شوو مسلمانانو د پرېښودو ملاتړې ده؛ الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ﴾ [انفال: ۷۲]

*ژباړه: که هغوی د دین په اړه له تاسو مرسته وغواړي، نو له هغو ی سره مرسته پر تاسو فرض ده.*

نو مه پرېږدئ چې موږ بیا دیموکراسي وچیچي. د حزب التحریر له ځوانانو سره یو ځای شئ چې د خوښۍ اصلي لامل (د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله صلی علیه وسلم د ستنو پر بنسټ حکم) لاس ته راوړئ او په صمیمانه توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زېریو په لټه کې اوسئ، لکه څنګه چې فرمایي:

«ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ» (مسند امام احمد)

*ژباړه: وروسته به جبریه حکومتونه راشي، نو هر څه چې الله سبحانه وتعالی وغواړي هماغسې به کېږي. کله چې الله سبحانه وتعالی وغواړي هغه به له منځه یوسي او بیا به د نبوت پر منهج خلافت راشي. ورسته رسول الله صلی الله علیه وسلم سکوت وکړ.*

د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

شمېره: ۱۷۰۵۸

د ۱۴۳۸ هـ.ق، د ذولقعدې ۵ مه

۲۰۱۷م، د جولای ۲۸مه